RÉPUBLIQUE FRANÇAISE
*Liberté*
*Égalité*
*Fraternité*


INSTITUT NATIONAL DU CANCER

# د HPV یا انساني پاپیلوماویروس په وړاندې واکسین کول




دا واکسین زما د ماشوم
د HPV په وړاندې د ساتنې
لپاره خورا مهم دی.

**د هغو انجونو او هلکانو لپاره چې عمرونه یې 11 یا پورته وي**
دا واکسین لازم نه دی مګر دا په کلکه سپارښتنه کیږي.




©SantéBD انځورونه

# HPV څه شی دی؟

HPV انساني ویروسونه دي چې د **پاپیلوما ویروس** په نوم یادیږي.


HPV خورا ډیر دي.

شاوخوا 200 مختلف پاپیلوما ویروسونه شتون لري.



**HPV ویروس ډیر ساري ویروس دی:**
دا پدې مانا ده چې دا ویروس په اسانۍ سره له یو کس څخه بل کس ته انتقالیږي.

دا ویروسونه په ډیر خلکو کې شتون لري.




د HPV ویروسونه اکثرا د لومړي جنسي اړیکې پرمهال له یو نه بل ته انتقالیږي.

کنډوم په بشپړه توګه د HPV په وړاندې ساتنه نه کوي.

زموږ بدن ډیری وختونه دا ویروسونه له مینځه وړي.


کله چې زموږ له بدن دغه ویروس له منځه نه ځي، نو دغه ویروس کولی شي لامل شي:



- له سرطان نه مخکې زخمونه، یعني کله چې سرطان شتون نلري،
- سرطان،
- د مقعد یا کوني او تناسلي زخه یا بدرنګوالی.

دغه زخې د مقعد یا کوني او تناسل تر منځ ځرګندیږي. دغه زخې جدي ندي مګر زیان رسوي.


**هر څوک د سرطان دمخه زخمونو، د سرطان او د مقعد او تناسلي زخه سره مخ کیدای شي، هم نارینه او هم ښځینه.**




**په فرانسه کې هر کال د HPV له امله :**

- 100,000 خلکو ته د مقعد او تناسل زخې
- د سرطان 6400 نوې پیښې


# د HPV واکسین یو درمل دی
# چې محافظت کوي.
# دا یقیني دی.






د HPV واکسین ستاسو ماشوم د دې په وړاندې ساتي:


- له سرطان دمخه زخمونه او/ یا سرطانونه :
  - د رحم سرطان،
  - د کوس سرطان
  - د تناسلي اندام سرطان،
  - د مقعد یا کوني سرطان
- د مقعد یا تناسل زخي



**د HPV واکسین اغیزمن او خوندي دی.**

**تر اوسه په ټوله نړۍ کې تر 100 میلیونو زیات ماشومان واکسین شوي دي.**

# زما ماشوم باید په کوم عمر کې واکسین شي؟





**د 11 کلنۍ څخه تر 14 کلنۍ پورې د انجونو او هلکانو لپاره واکسین سپارښتنه کیږي.**

**هرڅومره ژر چې ستاسو ماشوم واکسین شي، په هماغه اندازه واکسین د ناروغی په وړاندې ساتنه کوي.**

تاسو د خوندي کیدو لپاره د **واکسین 2 دوزونو** ته اړتیا لرئ.

دوهم انجیکشن مه هیروئ ، له 5 څخه تر 13 میاشتو وروسته.





**ستاسو ماشوم ممکن ده چې په ورته وخت کې ترلاسه کړي:**

- د HPV واکسین یو دوز،
- بل واکسین، د بیلګې په توګه د dTcaP بوسټر واکسین.

د dTcaP بوسټر واکسین د 11 او 13 کلونو ترمنځ پلان شوی.
dTcaP د ډیپتیریا، تیتانوس، د آسیلولر کوکلش او پولیومیلایتس پروړاندې واکسین دی.


# که ما د خپل ماشوم واکسین کول هیر کړی وي؟




**واکسین کول لاهم د 15 او 19 کلونو ترمنځ امکان لري.**

تاسو د خوندي کیدو لپاره د **واکسین 3 دوزونو** ته اړتیا لرئ.

دوهم او دریم انجیکشن مه هیروئ،
د لومړي انجیکشن څخه دوه میاشتې وروسته او بیا 6 میاشتې وروسته.



# څوک کولی شي زما ماشوم واکسین کړي؟



قابله



درمل جوړونکی



ډاکټر




تاسو هم کولی شئ د واکسین مرکز ته لاړ شئ



نرس


# دا څومره قیمت لري؟

ستاسو د روغتیا بیمې فنډ د واکسین د هر دوز د قیمت 65٪ تادیه کوي.

د مثال په توګه، د 100 یورو لګښت په صورت کې، د روغتیا بیمه به تاسو ته 65 یورو بیرته درکوي.

پاتې نور ستاسو ته د دوه اړخیز بیمې شرکت لخوا تادیه کیدی شي.





**واکسین وړیا دی :**

- په کالج یا منځني ښوونځي کې، د پنځم ټولګي زده کونکو لپاره،
- ستاسو په ښار یا ډپارټمنټ کې د واکسینو په ځینو مرکزونو کې،
- که تاسو د پیوستون اضافي روغتیا بیمه یا دولتي طبي مرستي لرئ.

# ستاسو ماشوم په کالج کې، په پنځم ټولګي کې دی




ستاسو په اجازه، ستاسو ماشوم په کالج یا منځني ښوونځي کې واکسین کیدی شي:

- د یو ډاکټر لخوا
- د یو درمل جوړونکي لخوا
- د یو قابله لخوا
- د یو نرس لخوا






ستاسو ماشوم به دوه ځله واکسین شي.

**هغه باید خپل روغتیایی ریکارډ ولري.**

**واکسین به وړیا وي.**

که ستاسو ماشوم لا دمخه د واکسین لومړی انجیکشن اخیستی وي، دوی به وکولی شي په ښوونځي کې دوهم واکسین واخلي.

**په کال 2023 کې، 12 کلن 400,000 ماشومان واکسین شوي دي.**

## د نورو معلوماتو لپاره

د خپل ډاکټر سره خبرې وکړئ، او یا، دغه ویب پاڼه وګورئ e-cancer.fr

## په دې لړ کې د خپل ماشوم سره د خبرو لپاره

زموږ دغه ویب پاڼه وګورئ
preventionenfant.e-cancer.fr

## د واکسینو په اړه نور معلومات ترلاسه کولو لپاره




د وقف شوي SantéBD سره مشوره وکړئ، چې وړیا شتون لري په دغه ویب پاڼه :
www.santebd.org

انځورونه : ©SantéBD

په FALC کې پمفلیټ
د فکري معلولیت لرونکو خلکو لخوا د لوستلو او پوهیدو لپاره اسانه( ESAT l'Envol (Unapei 34)

© د اروپا لوګو د لوستلو لپاره اسانه: شامل اروپا. نور معلومات په ویب پاڼه کې www.easy-to-read.eu.

INCa - SIREN : 187 512 777 - جون 2024 - DEPVACCHPVFALC24.